# د افغانسـتان اسـلامي امـارت

# د مخـابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت

## څیړنې او پراختیا عمومي ریاست

## څیړنې او نوښت ریاست

## د معلوماتي ټکنالوجۍ په برخه کې بدلونونه او پرمختګ

## (میاشتنی لنډ راپور)

۱۴۴۶/۶/۲۹

لړلیک


سریزه ........ 2

عمومي موخه ........ 3

موضوعات ........ 4

١. ډیجیټلی حکومتداری (E-Government) ........ 4

١-٢ نیویارک په امریکا کې لومړنی ښار دی چې د تر افیکو پلان یې پلي کړی دی ........ 4

٢. مصنوعي ځیرکتیا (Artificial Intelligence AI) ........ 5

٢-١ د الکترودونو په مرسته د کمپیوټر او دماغ نښلول ........ 5

٢-٢ د وی ال سی (VLC) آپلیکیشن به د مصنوعي ځیرکتیا پر مټ لاندې لیکونه (Subtitle) جوړوی ........ 6

٣. نوی راڅرګندیدونکي ټکنالوجی او وسایل (Emerging Technologies & Gadgets) ........ 7

٣-١ آیا ټوله شپه موبایل چارجول بیټرۍ ته زیان رسوي؟ ........ 7

٣-٢ د ناسا یو فضایي بېړۍ لمر سره نژدې تېره شوه او روغه پاتې شوه ........ 8

سرچینې (References) ........ 9

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العالمین والصلاه والسلام علی سید المرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.

## سریزه

ټکنالوجۍ او نوښت د هیوادونو په وده کې مهم رول لوبوي. د انسانانو په لاس د ټکنالوجۍ پرمختګ د اوږدې مودې راهیسې په دوامداره توګه وده کړې ده. هر کال موږ د نویو ټکنالوجیو د راڅرګندېدو خبرونه اورو. د نن ورځې ټکنالوجیو سره آشنا کیدل ممکن د حکومتدارۍ ډول ، سوداګرۍ یا آن زموږ د ژوند د ډول بدلولو پریکړه وکړي. ټکنالوجۍ یوه ډالۍ ده چې زموږ نړۍ پراخه، اسانه او ډیر په زړه پورې کوي. هر څه چې زموږ لپاره یو خوب دی، کیدای شي چې یوه ورځ د ساینسي پرمختګونو او د نویو ټکنالوجیو د راڅرګندیدو له امله په واقعیت بدل شي.

په وروستیو لسیزو کې، ټکنالوجیکي پرمختګونو او اړوندو بدلونونو په نړیوالو بازارونو، حکومتونو او ورځنیو کارونو باندې لوی اغیزې کړې دي. دا پرمختګونه د ډیجیټل حکومتولۍ، د معلوماتو امنیت، څیړنې او پراختیا، د معلوماتي ټکنالوجۍ نوښتونه، د مخ پر ودې ټیکنالوجیو او نورو معلوماتي ټکنالوجیو سکتورونو په شمول په مختلفو برخو کې پیښ شوي دي.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت په هیواد کې د یوازینې باوري مقام په توګه د ټکنالوجۍ په برخه کې هڅه کوي چې د نویو ټکنالوجیو په اړه پوهاوی ترلاسه کړي. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ د څیړنې ودې او د تخنیکي او مخابراتي فعالیتونو د پراختیا په موخه د دې وزارت په چوکاټ کې د څیړنې او پراختیا عمومي ریاست تاسیس کړی. په اوسنۍ نړۍ کې د ټکنالوجۍ د چټک او هراړخیز پرمختګ له امله، دا ځانګه ژمنه ده چې د نویو ټیکنالوجیو اړوند ټولو اړخونو ته بیاکتنه او ارزونه یې وکړي. دا وزارت پروګرامونه او ستراتیژیانې جوړوي او پلی کوي یې ترڅو له نویو ټیکنالوجیو سره معرفت او بلدتیا ولري او په اغیزمنه توګه یې د هیواد خلکو ته وړاندې کړي.

دغه ریاست د نویو ټکنالوجیو د پوهاوي په موخه په بیلابیلو لارو چارو غور کړی دی. دا وزارت هڅه کوي چې د ساینسي سرچینو، تحلیلي مطالعاتو او تخصصي راپورونو د بیاکتنې له لارې د مخ پر ودې ټیکنالوجیو پیژندلو او پلی کولو هڅه وکړي. دا ریاست د خپلو څیړنو له لارې هڅه کوي د نوی ټکنالوجیو د فعالیت امکانات هم وڅیړي. د اړوندو څیړنو په ترسره کولو سره، دا یقیني کوي چې نوې ټکنالوجۍ په ریښتیني شرایطو کې د اغیزمن فعالیت کولو وړتیا لري او که نه.

د دې ټولو هڅو او فعالیتونو سره د مخابراتو او معلوماتی ټکنالوجۍ وزارت په هیواد کې د ټکنالوجۍ په پرمختګ کې مهم رول لوبوي. د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجیو په برخه کې د نویو ټکنالوجیو پوهه د اړوندو صنعتونو په پراختیا کې، خلکو ته د خدماتو وړاندې کولو، او د ټولنې د معلوماتو د کچې په لوړولو کې ډیره مرسته کوي.

## عمومي موخه

په رجب المرجب میاشت کې د معلوماتي ټکنالوجۍ د نویو بدلونونو او پرمختګونو په اړه پوهاوی او د هغو شریکول د وزارت له محترم مقام سره.

فرعي موخې

دا راپور لاندې فرعي موخې لري:

- ✓ د نویو ټکنالوجیو معرفي کول او ورسره آشنا کېدل
- ✓ د نویو ټکنالوجیو د اغېزو ارزونه او تحلیل
- ✓ په افغانستان کې د دغو نویو ټکنالوجیو د منظم استعمال لپاره حل لارې او وړاندیزونه

## موضوعات

### ۱. ډیجیټلی حکومتداری (E-Government)

د حکومتي چارو ښه تر سره کولو په موخه په رجب المرجب میاشت کې لاندې پرمختګونه شوي.

### ۲-۱ نیویارک په امریکا کې لومړنی ښار دی چې د تر افیکو پلان یې پلي کړی دی

نیویارک د متحده ایالاتو لومړنی ښار شو چې د ښار مرکزي سیمې ته د ننوتلو لپاره لږ تر لږه باید 9$ ورکړي. لکه څنګه چې د نیویارک ښار د ټرانسپورټ چارواکو ویلي دي، د دغه طرحې د پلې کولو لپاره به د ۲۰۲۵ کال د جنوري په شپږمه ۱۴۰۰ کمرې په ۴۰۰ سړکونو او لارو کې ځای پر ځای شي. د امریکا منتخب ولسمشر ډونالډ ټرمپ، د دې پلان مخالفت کړی خو د نیویارک چارواکو ویلي چې دوی د خپل پلان څخه د شاته کیدو هیڅ پلان نلري. د موټرونو ځانګړتیاوو ته په کتلو سره دوی باید دې سیمې ته د ننوتلو لپاره مختلف مقدار ورکړي، دغه مقدار به د یوې ورځې لپاره د لږ تر لږه 9$ څخه لوړ وي. د دې پلان ساحه د نیویارک د مشهور پارک (سنټرل پارک) له جنوب څخه پیل کیږي او مشهور ځایونه لکه د امپایر سټیټ ټاور، ټایمز سکویر او د وال سټریټ مشهور سوداګریز ځایونه پکې شامل دي، دغه پلان د دی لپاره جوړ شوی ترڅو په مرکزي نیویارک کې د ترافیکو ډیر دروند بار کم شي. (Eberhardt, 2025)





*انځور 1: نیویارک د امریکا لومړی ښار دی چې د ترافیکي ګڼې ګونې د مخنیوي لپاره د نرخونو پلان پلي کوي*

## ۲. مصنوعي ځیرکتیا (Artificial Intelligence AI)

مصنوعي ځیرکتیا(AI) په هره برخه کې د پام وړ پرمختګونه کړي دي. دلته د رجب المرجب میاشتې د پام وړ پرمختګونو باندې بحث کوو.

### ۲-۱ د الکترودونو په مرسته د کمپیوټر او دماغ نښلول


په متحده ایالاتو کې د ساینس پوهانو یوې ډلې په دې بریالي شوي چې د یو فلج شوی سړی په دماغ کې د الکترودونو نصبولو سره دغه سړی وکولای شی د مجازی ډرون الوتنه ترسره کړي. هغه کمپیوټر چې له سړي سره وصل وو د مصنوعي ځیرکتیا په مرسته، د هغه د دماغ فعالیت ډیکوډ کړ ځکه چې هغه د خپلو ګوتو د مختلفو لاړښوونو حرکت کولو تصور کاوه، نو د د دماغ د دغه فعالیتونو سره دغه سړی وکولائ شو چې یوازې د خپل ذهني عکس العمل په کارولو سره ډرون کنټرول کړي. د څو تمریني غونډو وروسته، د ازموینې ګډونوال وکولائ شول چې ډرون د مختلفو حلقو څخه په تیریدلو سره الوتنه ورکړي او له خنډونو څخه دغه ډرون وساتی. ساینس پوهان هیله لري چې دا څیړنه به د ټکنالوجی د لا پراختیا لپاره د تهداب په توګه کار وکړي، او په راتلونکي کې کولائ شي فلج شوي خلکو ته دا وړتیا ورکړي چې د فزیکي ډرونونو پیلوټ دندې او نورې دندې ترسره کړي. (BBCFacebook, 2025)



*انځور 2: د انسان دماغ سره د الکترودونو وصل کول*

### ۲-۲ د وی ال سی (VLC) آپلیکیشن به د مصنوعي ځیرکتیا پر مټ لاندې لیکونه (Subtitle) جوړوی

مشهور او وړیا ویډیو خپرونکی آپلیکیشن وی ال سی (VLC) د ټکنالوجۍ ډګر په یوې مهمه غونډې کې (CES 2025) د خپل آپلیکیشن نوې ځانګړتیا معرفي کړه. دغه ځانګړتیا د وی ال سی (VLC) آپلیکیشن ته دا وړتیا ورکوی چې د مصنوعي ځیرکتیا پر بنسټ د مختلفو ژبو لپاره لاندې لیکونه (Subtitle) جوړ کړی او یا یې وژباړی. د وی ال سی (VLC) آپلیکیشن نوې ځانګړتیا کولای شي موږ لپاره د انټرنیټ اړتیا پرته د نړۍ په مختلفو ژبو کې لاندې لیکونه (Subtitle) چمتو کړی. د وی ال سی (VLC) آپلیکیشن جوړوونکي وایی چې دغه نوی ځانګړنه به د نړۍ په 100 ژبو باندې لاندې لیکونه (Subtitle) جوړ کړی او یا یې وژباړی. مهمه خبره دا ده چې دا ځانګړنه به په آفلاین ډول چلیږي. موږ له دغه ځانګړنې څخه خورا اغیزمن کټه اخیستلی شو. د بیلګې په توګه په نورو ژبو باندې جوړ شوی تعلیمی ویډیوګانو کې ویل شوی موضوعات پر خپل ملی ژبو کې ورڅخه کټه واخلو. د یادونې وړ ده چې معلومه نده چې کله به دغه ځانګړنه د عموم لپاره د لاسرسی وړ شی. (Parab, 2025)




*انځور 3: د وی ال سی (VLC) آپلیکیشن نوی ځانګړنه معرفی شوه*

## ۳. نوی راڅرګندیدونکي ټکنالوجي او وسایل (Emerging Technologies & Gadgets)

په هره میاشت کې مونږ د نویو ټکنالوجیو او وسایلو د رامینځته کیدلو شاهدان یو. دلته د رجب المرجب میاشتې د ځینو نوي ټکنالوجیو په اړه بحث کوو.

### ۱-۳ آیا ټوله شپه موبایل چارجول بیټرۍ ته زیان رسوي؟


اوسنی نوي ځیرک کرځنده موبایلونه د چارجولو لپاره له ۳۰ دقیقو تر دوو ساعتونو پورې وخت ته اړتیا لري. د مبایل د چارجولو لپاره د اړین وخت اندازه د موبایل د بیټرۍ ظرفیت سره هم تړاو لري او دا د دغه موبایل د چارجولو لپاره شته چارجر څومره ځواکمن دی. په شپه کې د موبایل په چارج کې پرېښودل نه یوازې غیر ضروري دي، بلکې دا کار د موبایل د بیټرۍ ورتیا په چټکۍ سره د کمېدو لامل کېږي. د کارپوهانو مشوره دا ده چې د موبایل له بشپړ چارجولو څخه ډډه وکړو (د بېلګې په توګه د موبایل بیټرۍ په یوه ځل چارجولو کې له صفر څخه سل سلنه مه چارجوئ). د سامسونګ کمپنۍ لارښوونه کوي چې ستاسو موبایل سل په سلو کې ډیر ځله چارجول ستاسو د موبایل بیټرۍ ته زیان رسولی شي. د کارپوهانو په وینا، بهتره ده چې موبایل په یو وخت کې له ۲۰ تر ۸۰ سلنې پورې چارج کړئ. (Sohaid, 2023)



انځور 4: ټوله شپه مبایل چارجول ځینې وختونه د بیټرۍ شارږی لامل کیږی

## ۲-۳ د ناسا یو فضايي بېړۍ لمر سره نژدې تېره شوه او روغه پاتې شوه

ساینس پوهانو د روان کال د جدی میاشتې په اوومه نیټه له پارکر سولر پروب (Parker Solar Probe) فضايي بېړۍ څخه سېګنال ترلاسه کړ. دا بېړۍ د تېرو څو ورځو راهیسې چې لمر ته نژدې کیدله کوم سیګنال یې نه وو رالیږلی. ناسا وایي، پارکر سولر پروب (Parker Solar Probe) فضايي بېړۍ وروسته له هغه چې ۳.۸ میلیون مایله د لمر سطحې ته نږدې شوی لا هم خوندي ده او نورمال کار کوي. د ناسا ویب پاڼې کې راغلي چې دغې فضايي بېړۍ پر ساعت ۶۹۲ زره کیلومتره حرکت کاوه او تر ۹۸۰ ثانتي ګرادو تودوخه یې زغمله. د پارکر سولر پروب فضايي بېړۍ ماموریت په ۲۰۱۸ کال کې پیل شو. پخوا ۲۱ ځله له لمر څخه نږدې تېره شوې ده خو د دغه ځل یې ریکارډ مات کړ. د یادونې وړ ده چې موږ له لمر څخه ۹۳ میلیون مایله واټن لرو او دغه بېړۍ لمر ته ۳.۸ میلیون مایله نږدې شوی. دې بېړۍ ۱۴۰۰ درجې سانتي ګراد تودوخه او وړانګې وزغملې. کېدای شوی چې له همدې امله د بېړۍ برېښنايي سیستمونه خراب شوي وی. دغه بېړۍ په ۱۱،۵ سانتي متره (۴،۵ انچه) ضخامت لرونکي مرکب کاربن پوښ کې ساتل شوې وه. تاکتیک دا و چې چټکه ننوځي او چابکه ووځي. (Morelle & Francis, 2024)



*انځور 5: پارکر سولر پروب (Parker Solar Probe) فضایي بیړۍ لمر ته د نږدې کیدلو ریکارډ مات کړ*

## سرچينې (References)


1. BBCFacebook. (2025, January 21). *bbc.com*. Retrieved from BBC: https://www.facebook.com/bbcpersian/posts/%DA%AF%D8%B1%D9%88%D9%87%DB%8C-%D8%A7%D8%B2-%D8%AF%D8%A7%D9%86%D8%B4%D9%85%D9%86%D8%AF%D8%A7%D9%86-%D8%AF%D8%B1-%D8%A2%D9%85%D8%B1%DB%8C%DA%A9%D8%A7-%D9%85%D9%88%D9%81%D9%82-%D8%B4%D8%AF%D9%87%D8%A7%D9%86%D8%AF-%D

2. Eberhardt, E. (2025, January 6). *dazeen.com*. Retrieved from dazeen: https://www.dezeen.com/2025/01/06/new-york-city-first-us-city-implements-traffic-congestion-pricing/

3. Morelle, R., & Francis, A. (2024, December 27). *bbc.com*. Retrieved from BBC: https://www.bbc.com/news/articles/cgrwdxpljyxo

4. Parab, P. (2025, January 9). *lifrhacker.com*. Retrieved from LIFEHACKER: https://lifehacker.com/tech/vlc-media-player-introduced-ai-subtitles-that-work-offline-ces-2025

5. Sohaid, M. (2023, December 19). *bbc.com*. Retrieved from BBC: https://www.bbc.com/pashto/articles/cpw3n78e0gxo